# د سیاسي ګوندونو او ټلوالو د چلند اصول

## مبنی:

د چلند دا اصول د ټاکنو قانون د(۵۵ او ۷۹)مادې پر بنسټ، په بېلابېلو ټاکنیزو پروسو کې د سیاسي ګوندونو او ټلوالو د ګډون او فعالیتونه د تنظیم په موخه تدوین شوي دي. د چلند په دې اصولو کې ټاکل شوي معیارونه او اصول په ټولو ټاکنیزو پروسو کې د سیاسي ګوندونو فعالیتونه تنظیموي.

## حقوق:

سیاسي ګوندونه او د څارونکو په توګه د هغوی استازي لاندې حقونه لري:

1. سیاسي ګوندونه او ټلوالې حق لري چې د څارونکي په توګه د ټاکنو خپلواک کمیسیون څخه باورلیک ترلاسه کړي او څارونکي یې د رای ورکولو او رای شمېرلو په مرکزونو او محلونو کې حضور ولري.
2. د سیاسي ګوندونو او ټلوالو استازي مکلف دي چې د اوازو له خپرولو او د تشنج له پیدا کولو څخه په کلکه ډډه وکړي.
3. د سیاسي ګوندونو او ټلوالو استازي د شکایت د درج په وخت کې اصل واقعیت رعایت کړي.
4. د سیاسي ګوندونو او ټلوالې استازي حق لري د کمیسیون د طرزالعمل له مخې د ټاکنو بهیر په اړه معلوماتو ته لاسرسی ولري او د سرغړونې پرمهال اړوندې مرجع ته شکایت ولیکي. د سیاسي ګوندونو او ټلوالو مکلفیتونه.

## مکلفیت:

سیاسي ګوندونه او د سیاسي ګوندونو ټلوالې چې د چلند دا اصول یې لاسلیک کړي دي، مکلف دي چې د ټاکنیزو فعالیتونو پرمهال پر اساسي قانون سربېره د ټاکنو قانون، د سیاسي ګوندونو قانون، د رسنیو قانون او په هېواد کې نور نافذ قوانین،لایحې، طرزالعملونه، لارښوونې، د چلند دا اصول او د ټاکنو خپلواک کمیسیون ټولې مصوبې په پام کې ونیسي.

دې موضوع ته په پام زه ................................ د ................................ په استازیتوب ژمنه کوم (چې):

۱. په ټاکنو کې د ګډون کوونکو ټولو سیاسي ګوندونو حقوق او ازادي رعایتوم.
۲.د ټولو ګوندونو، ټلوالو، نوماندانو، رای ورکوونکو، خبریالانو او کتونکو حقوقو رعایت او خوندیتوب ته په پام ټاکنیزې سیالۍ کوم.

۳. د خلکو ملکیتونو ته درناوی لرم اود هغو د خاوندانو له خوښې او رضایت پرته نه په هغو خپل تبلیغاتي مواد ځړوم او نه هم له دغو ملکیتونو څخه د ټاکنیزو سیالیوپه موخه ګټه اخلم.
۴. د ټاکنیزو سیالیو پرمهال د واټونو له بندولو او عامو خلکو ته د مزاحمت کولو څخه ځان ساتم.
۵. د رسنیو آزادۍ ته درناوی لرم.
۶. د نورو نوماندانو اوسیاسي ګوندونو د تبلیغاتي توکو له لیرې کولو، زیانمنولو او خرابولو څخه ډډه کوم او د نورو طبیعي او قانوني حقونو ته بشپړ درناوی لرم.
۷. ټاکنو خپلواک کمیسیون، د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون اواړوندو کمیسیونونو سره د رښو، آزادو، عمومي او عادلانه ټاکنو په ترسره کولو کې مرسته کوم.
۸. د ټاکنوقانون، لایحو، لارښودونو، د چلند له دې اصولو او د ټاکنوخپلواک کمیسیون د خبرتیاو څخه د سرغړونې اړوند رسمي شکایتونو او تورونو د څېړنې لپاره د اړتیا او غوښتنې پرمهال ، له دې کمیسیون، اړوندو کمیسیونونو او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون سره مرسته کوم.
۹. له ټاکنیزو کارکوونکو، خبریالانو، رپوټرانو او کتونکو سره چې دکمیسیون باورلیکونه ولري، مرسته کوم.
۱۰. پر رأی ورکوونکي فشار نه راوړم.
۱۱. د ټاکنیزو کارکوونکو په کارونو کې لاسوهنه نه کوم او نه ټاکنیزه پروسه اخلالوم.
۱۲. ناسم او کم ارزښته شکایتونه هم نه کوم.
۱۳. هڅه کوم چې په ټولو ټاکنیزو قوانینو او مقرراتو، د چلند اصولو او ټاکنیزو طرزالعملونو ځان پوه کړم.
۱۴.د خپل ګوند یا ټلوالې پلویان د هغو اعمالو او حرکاتو له ترسره کولو څخه منع کوم چې د قوانینو، ټاکنیزو مقرراتو، طرزالعملونو او د چلند له دې اصولو سره په تضاد کې وي.
۱۵. خبریالان او رپوټران نه ځوروم او نه هم د نورو ګوندونو،ټلوالو او نوماندانو ټاکنیز پروګرامونه اخلالوم.
۱۶. کوم کارونه چې د خلکو د توکمیزې، قومي، نژادي، مذهبي، ژبني او جنسیتي پارونو (تحرکاتو) لامل ګرځي، د ټاکنیزو سیالیو پرمهال به یې ترسره نه کړم.
۱۷. د نورو ګوندونو، ټلوالو او خپلواکو نوماندانو د تبلیغاتي پاڼو د ویش او خپرولو په لاره کې خنډ نه ګرځم.
۱۸. د نورو ګوندونو، ټلوالو او خپلواکو نوماندانو په غونډو کې لاسوهنه نه کوم.
۱۹. خلک د نورو ګوندونو، ټلوالو او خپلواکو نوماندانو په غونډو کې له ګډون څخه نه را ګرځوم.
۲۰. د نورو ګوندونو، ټلوالواو خپلواکو نوماندانو د سپکاوي څخه ډډه کوم.

۲۱. د خپل ګوند یا ټلوالي پلویانو ته د دي اجازه نه ورکو چې د دې چلند له اصولو سرغړونه وکړي.
۲۲. د ټاکنیزوسیالیوپه تبلیغاتي توکو، ویناو او پیغامونو کې د هغو موادو له خپرولو ډډه کوم چې د عامه افکارو د پارونې او تخریش لامل کېږي.
۲۳. تورونو او فتنې ته ورته او د خلکو د احساساتو له پارونکو څرګندونو څخه ډډه کوم.
۲۴. له هغو نښانونو او سمبولونو څخه به ګټه وانه خلم چې د دولتي او نادولتي ارګانونو، د ټاکنوخپلواک کمیسیون او سیاسي ګوندونو او ټلوالو نښانونو ته ورته وي.
۲۵.د ټاکنو په ټولو پړاوونو کې د هر ډول جاریحه او ناریه وسلې د لېږد او تاوتریخوالي د رامنځته کولو څخه ډډه کوم.
۲۶. د رأی ورکوونکي د انتخاب د بدلون په موخه به له هر ډول غیر قانوني فشار او اعمال نفوذ څخه ډډه وکړم.
۲۷. په ټاکنیزو کارکوونکود ناقانونه نفوذ له اعمال څخه ډډه کوم.
۲۸. د بهرنیو او غیر قانوني کورنیو سرچینو څخه نغدي او جنسي مرسته نه اخلم.
۲۹. ټولو شکایتونو ته له رسېدنې وروسته د ټاکنو تصدیق شوې پایلې منم.

نوم:..................................
ګوند/سیاسي ټلواله:......................
په ګوند/سیاسي ټلواله کې‌موقف:..............
ځـــــــای:.................................
لاسلیک:...............................
نېټه:.................................